بسم الله الرحمن الرحيم

## په ژنیف کې د امریکا او روسیې مشرانو د ناستې څنډې

**پوښتنه:**

د ۲۰۲۱م، د جون په ۱٦مه، د امریکا او روسیې ولسمشرانو بایډن او پوتین تر منځ په ژنیف کې لومړۍ ناسته وشوه. د دغې ناستې پایله څه ده او موخه به یې څه وي؟ په ژنیف کې د دوو ولسمشرانو له ناستې د مثبتو پایلو تمه کېدای شي؛ په دې مانا چې د دوو هېوادونو په تاریخ کې له کلونو تاریخي ترینګلو اړیکو وروسته به یې اړیکې ښې شي؟

**ځواب:**

د امریکا او روسیې د مشرانو د ناستې درک کول ستونزمن نه دي؛ خو که په هغو چارو پوه شو، چې پخوا یې د دغو دوو هېوادونو تر منځ اړیکې خرابې کړي، چې په لاندې ډول دي:

۱ـ یو زیات شمېر رسنۍ او ځینې سیاستوال امریکا او روسیې ته د لویو هېوادونو صفت کاروي. البته دا د واقعیت هغه انځور دی، چې د خلکو په ذهنونو کې ناست دي، امریکا او شوروي اتحاد په نړۍ کې دوه هغه لوی هېوادونه دي، چې پایګاوې لري. واقعیت دا دی، چې روسیه د شوروي اتحاد له پاشل کېدو وروسته، لویه ضربه ولیده او په رقابت کې یې له امریکا سره د دغه هېواد کچه راټیټه کړه. نو د دواړو هېوادونو د ناستې مقام د امریکا او شوروي اتحاد د ناستې په پرتله ډېر ټیټ او کم ارزښته دی. ځکه هغو ناستو ډېر پیغامونه درلودل، ځکه اوسمهال له روسیې سره یوازې پوځي ځواک پاتې دی، په ځانګړي ډول له هسته یي، موشکي او فضایي ځواک پرته یې پخوانۍ لویي نه ده پاتې.

۲ـ له امریکا سره د روسیې اړیکې د «اوباما» د حکومت له پای ته رسېدو سره خرابې شوې، ځکه په ۲۰۱۴م، کې امریکا د کریمه جزیرې د نیولو له امله پر روسیې بندیزونه ولګول او له (اتمه ډله) یې هغه ویست. وروسته یې په ۲۰۱٦م، کې د امریکا په ټاکنو کې د لاسوهنې له امله بندیزونه پرې

ولګول. د اوباما حکومت د ۲۰۱٦م، د ډسمبر په وروستیو کې ۳۵تنه روسي ډیپلوماتان له امریکا وایستل او د دغه هېواد پر رسنیزو سرویسونو یې بندیزونه ولګول؛ یعنې په ټاکنو کې د (ټرامپ) له بریالي کېدو او مخکې له دې چې د هېواد واک په لاس کې واخلي. سرچینه: (دویچې وله، ۲۰۱۷م، د جنوري ۱۴مه)

پوتین ته د ټرامپ له خوږو خبرو سره سره، امریکا همېشه پر روسیه بندیزونه لګول او د دواړو هېوادونو اړیکې یې ترینګلې کړې دي. ځکه د امریکا په زیاتو ښارونو کې یې د روسیې ځانګې او قونسلګرۍ وتړلې، په امریکا کې د روسیې پر رسنیزو کانالونو او له موجه او ناموجه لارو یې پر روسیه بندیزونه ولګول.

د روسیې دولت مخالف (ناوالني) د نیول کېدو په خاطر بندیز ولګېد. په ۲۰۱۸م، کې په بریټانیا کې د روسیې دولت مخالف (سکریبال) د مسموم کولو د تور په خاطر بندیز ولګېد. د ټرامپ حکومت په وروستیو کې د سایبري بریدونو په تور، د روسیې د ټکنالوژۍ پر شرکتونو بندیزونه ولګېدل.

کله چې (بایډن) واک تر لاسه کړ، اړیکې نورې هم بحراني شوې. د امریکا ولسمشر بایډن د روسیې ولسمشر پوتین قاتل وباله او ادعا ویې وکړه، چې ډېر ژر به د امریکا په ټاکنو کې د لاسوهنې بیه پرې کړي. سرچینه: (سکای نیوز عربي، ۲۰۲۱م، د مارچ ۱۷مه)

د ۲۰۲۱م، د مارچ په میاشت کې د نظر له وړاندې کولو وروسته د روسیې سفیر له واشنګټن څخه ووت او په بله میاشت کې د امریکا سفیر مسکو ترک کړ او امریکا، روسیه له نړیوال مالي سیستم څخه په ایستلو وګواښله.

۳ـ بایډن چې په ډیموکراټ حزب پورې تړلی، د روسیې او ولسمشر پوتین پر وړاندې یې زیات نفرت ایجاد کړ او هغه یې د ۲۰۱٦م، په ټاکنو کې د هېلاري کلېنټون د ناکامۍ لامل وباله. ډیموکراټانو، د ټرامپ د واکمنۍ له جمهوري غوښتونکو وغوښتل، چې د روسیې لپاره جزا وټاکي او ټرامپ یې په دې تورن کړ، چې روسیې ته جزا نه ورکوي او په دې برخه کې یې پر ټرامپ فشار راوست او روسیې ته به یې خبرداری ورکاوه، چې که یې د ۲۰۲۰م، ټاکنې وګټې، نو تېرې کړنې په جبرانوي. کله

چې د ډیموکراټانو مشر بایډن ټاکنې وګټلې، همهاله پر (سولار ویندوز) شرکت قوي سایبري بریدونه وشول؛ هغه شرکت چې د امریکا د اطلاعاتو له حساسو سازمانونو سره کار کوي.

د امریکا د اطلاعاتو سازمان، روسیه په دې سایبري بریدونو تورنه کړه او امریکا روسیه خپله دښمنه وبلله. همدارنګه له دغې ناستې دوې ورځې مخکې بایډن خبرداری ورکړ، چې اوکراین د ناټو له ترون سره یو ځای کوي! نو په دې ډلو دغه ناسته، د دواړو هېوادونو تر منځ د شته ستونزو په موجودیت کې په یوه مسیر نه وه روانه، بله څېره یې درلوده، چې د دغې ناستې د پردې شاته خبرو ته په ژوره توګه کتو او د همدې ناستې جریان واضح کوي، چې:

الف: د دوو ولسمشرانو تر منځ ناسته له دوو نیمو ساعتونو وروسته پای ته ورسېده. دا په داسې حال کې ده، چې په پام کې و، ناسته څلور ساعته دوام وکړي او د دوو ولسمشرانو تر منځ ګډ مطبوعاتي کنفرانس هم ونه شو او دواړو بېل بېل مطبوعاتي کنفرانسونه ورکړل. دواړه مطبوعاتي کنفرانسونه د ۲۰۲۱م، د جون په ۱٦مه، الجزیرې شبکې او نورو رسنیو په مستقیم ډول خپاره کړل.

د دواړو اړخونو تر منځ ګډه بیانیه، په لاندې موضوعاتو توافق ښیي:

یو دا چې هسته یي جګړه به هېڅ بریالی ونه لري؛ که څه هم د دواړو هېوادونو تر منځ د دغه ډول جګړې کوم څرک نشته. د امریکا ولسمشر بایډن د استارت۳ هوکړې ته، چې د استراتیژي (د ترون ترلو) وسلو د تولید کمول، باید واشنګټن لازم وباله او همدارنګه په یوه داسې کمسیون هوکړه وشوه، چې د دغې موضوع بریا وڅاري.

د دواړو هېوادونو تر منځ په زیاتو اختلافي مسایلو بحث وشو. همدارنګه په دغه ناسته کې د روسیې ولسمشر له خپل امریکایي سیال وپوښتل چې ده ته یې ولې قاتل ویلي. بایډن په خپل مطبوعاتي کنفرانس کې وویل، چې په زندان کې د روسیې دولت مخالف «ناوالني» وژل کېدو له امله د ناوړه پایلو خبرداری ورکړ، خو ناسته یې ګټوره او مثبته وبلله او په ضمني ډول یې اعتراف وکړ، چې دغه لیدنه د روسیې لپاره د ګواښ پیام هم درلودلای شي، که چېرې یې بیا ځلې د امریکا په ټاکنو کې لاسوهنه وکړه او بیا یې سایبري بریدونه تر سره کړل.

د روسيې ولسمشر پوتين په خبرې کنفرانس کې وويل: «د دواړو هېوادونو تر منځ د اړيکو ښه کېدل به ستونزمن وي، خو هيله ورته شته.» هغه د بشري حقونو په برخه کې پر امريکا بريد وکړ او په گوانتانامو کې يې د امريکا د استخباراتو او اطلاعاتو او د تور پوستو پر وړاندې يې د امريکا د غير انساني کړنو يادونه وکړه. دا په روسيه کې د بشري حقونو د نقضولو په اړه د امريکا د نيوکو پر وړاندې غبرگون و.

بايډن د دواړو هېوادونو تر منځ د هر ډول ناسم درک د نشت په پار، د دواړو ولسمشرانو تر منځ د مستقيمې اړيکې د ارزښت خبر ورکړ او دا يې واضح کړه، چې راتلونکې اړيکې د روسيې په کړنو پورې مشروطې دي.

ب ـ که پام وکړو، پوهېږو چې امريکا پر روسيه د فشار راوړلو قدم پورته کړی او دا امريکا وه، چې د دواړو هېوادونو تر منځ يې د اړيکو بحراني کولو ته لمن وهلې ده. په هغه کچه چې د روسيې ولسمشر پوتين يو څه وخت مخکې هغه ډېره خرابوونکې وبللې. دغه راز امريکا د دواړو هېوادونو د ناستې اقدام وکړ، پرته له دې چې پر اختلافي ټکو توافق وشي.

دغه ناسته د روسيې لپاره يو زيری و، خو هغه يې په يوه جنجال بدله کړه، ځکه روسيې فکر کاوه، چې بايډن د امريکا لومړنی ولسمشر دی، چې په خپل بهرني سياست کې يې له روسيې سره د ناستې پرېکړه کړې ده او دا يې د دې لپاره دليل باله، چې امريکا روسيې ته ارزښت ورکوي.

د امريکا ولسمشر بايډن په خپل عمل سره، د روسيې ناسم درک رد کړ، ځکه له انگلستان څخه يې هم ليدنه وکړه او د دغه هيواد له لومړي وزير (جانسون) سره يې وکتل او همدارنگه په G7 ناستو کې يې په حضوري ډول گډون وکړ. البته له دې وروسته چې تمه کېده، څو د انټرنېټ پواسطه د ټولنيزو شبکو له لارې گډون وکړي. د دې په زياتولو سره چې بايډن په حضوري بڼه په بروکسېل کې د ناټو تړون په ناستو کې هم گډون وکړ او هلته يې ډېرې ناستې لکه د ترکيې ولسمشر اردوغان سره هم ناسته تر سره کړه.

دغه راز بايډن په بروکسل کې د اروپا رييسانو شورا «چارلز ميشل» او اورپا کمسيون له رييس «اورزولا فون در لاين» سره نادره ليدنه درلوده. په دې ترتيب د بايډن او پوتين تر منځ ليدنه، يوه له هغو

لیدنو وه، چې د امریکا ولسمشر بایډن اروپا ته په خپل سفر کې درلوده. یعنې د دې غلط فهمۍ د رفع کولو لپاره، چې ګواکې روسیه فکر کوي؛ امریکا په دغو ناستو کې په ځانګړي ډول له دوی سره ناستې لري.

ج ـ د پورته مسایلو په پام کې نیولو سره ویلی شو، چې د دوو رهبرانو د ناستې پایلې ډېرې کمې وې، چې په لنډه توګه یې یادونه کوو؛ د دواړو هېوادونو د سفیرانو بیا لېږل د یوه او بل پلازمېنو ته، پر استارت۳ ستراتیژیک تړون التزام، د اړیکو ښه کېدل د روسیې په راتلونکو کړنو پورې تړل، یعنې د روسیې بیا تېروتنه، لکه په سوریه کې یې چې د امریکا په مصلحت تېروتنه وکړه.

پوتین د ۲۰۱۵م، د سپټمبر په ۲۸مه، په نیویارک کې د امریکا له پخواني ولسمشر اوباما سره له ناستې وروسته، اعلان وکړ، چې په سوریه کې پوځي مداخله کوي. په حقیقت کې یې په دغه کار سره، خپل پوځي خدمتونه د امریکا په ګټه وکارول. شاید روسیې ته له اسلام سره کینې، انګېزه ورکړې وي، څو د سوریې د مسلمانانو په وژنه کې برخه واخلي او یا هم شاید د خپلې نړیوالې انزوا، چې په ۲۰۱۴م، کې د کریمه شبه جزیرې له اشغال وروسته، چې غربي بندیزونه یې هم درلودل، په سوریه کې د مداخلې انګېزه ورکړې وي. خو تر دې مهمه دا ده، چې امریکا د روسیې د پوځي خدمتونو خوند څکلی او په سوریه کې یې ارزښت ورمعلوم شوی او اوس په زیاتې تمې سره غواړي دا مهم ماموریت د چین په اقیانوس کې روسیې ته ورکړي.

په سوریه کې د روسیې مداخلې، سره له دې چې روسیه پوهېده، چې بشار اسد د امریکا مزدور دی، د ستراتېژۍ لویه تېروتنه وه، چې د خپلواک دولت هېڅ عقلمند رهبر یې نه تر سره کوي.

د ـ خو پر روسیه د امریکا له نااعلان شوو فشارونو موخه دا ده، چې د چین پر وړاندې د امریکا ستراتیژي، د یوې نړیوالې ډبرې په توګه وکاروي. پر چین د فشار راوستلو او له امریکا سره د سوله ییز ژوند کولو ته اړ کوونکې ستراتیژۍ مهندس، د شپېتمې لسیزې په منځ کې او د ویتنام جګړې پر مهال، د امریکا پخوانی د بهرنیو چارو وزیر و. د امریکا سیاسي دفترونه همېشه دغه بوخت سپین ږیري ته د یوه سیاسي متفکر، ستراتیژیست او په نړیوال سیاست کې د یوه باهوښه نظر لرونکي په توګه ورځي. په همدې خاطر دغو سیاسي دفترونو هغه ته په ۲۰۱٦م، دوې مهمې غونډې جوړې

کړې، په داسې حال کې چې دی شاوخوا نوي کلن دی. دغه دوې ناستې چې په انفرادي ډول ولسمشرۍ ته د دوو نوماندانو هېلرې کلېټن او ټرامپ سره درلودې او هغوی ته یې توصیه دا وه، چې پر چین د فشار راوړلو کې روسیه له دوی سره یو ډول موضع غوره کړي.

هـ ـ سره له دې چې د امریکا دا موخه سري (پټه) وه، خو امریکا په یوه بڼه هغه روسیې ته ورانتقال کړې او روسیه ښه پرې پوهیږي. د روسیې د بهرنیو چارو وزیر «لاوروف» وویل: «امریکا به پر دې ونه توانیږي، چې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره روسیه وسیله وگرځوي او د چین پر وړاندې یې وکاروي... اوسمهال په جدي ډول په دې بحث کوي، چې څه ډول روسیه د چین پر وړاندې په خپله گټه وکاروي... غواړي موږ د امریکا متحده ایالاتو د خدمت لپاره یوه وسیله وگرځوي.» هغه زیاته کړه: «خو په خپله دغه طرحه کې به بریالي نه شي.» سرچینه: آرټي، ۲۰۱۸م، د ډسمبر ۲۴مه)

و ـ د امریکا د گټو لپاره د روسیې کارول هغه څه دي، چې امریکا یې غواړي. په همدې دلیل یې د کسینجر د مفکورې د پلي کولو په خاطر، له روسیې سره په گډه د چین مهارلو لپاره پر روسیه فشار راوستلی او اړیکې یې ورسره جنجالي کړې دي. له دې پرته روسیه له امریکا سره په سیالۍ کې نه ده، نه په اقتصاد او نه هم په نړیوال سیاست کې او روسیه له پوځي وسایلو پرته، د یوه لوی دولت امکانات نه لري. امریکا د شوري اتحاد او وروسته د روسیې د پوځي وسایلو له گواښ څخه د ترونونو په وسیله ځان ژغورلی دی. نه یوازې دا بلکې امریکا له زیاتو ترونونو وتلې ده او د خپل موشکې سپر پر جوړولو یې پیل کړی دی، خو روسیه دومره قوي اقتصاد نه لري، چې د امریکا په شان خپل پوځي ځواک پراخه کړي... نو د روسیې هسته یې او ستراتیژیک ځواک له امریکا سره د اړیکو د ترینگلتیا له امله نه دی. له روسیه سره یې د اړیکو خرابولو موخه دا وه، تر څو پر روسیه فشار راوړي، چې د امریکا د تمرکز له محور (چین) سره ښې اړیکې ونه ساتي او ترې لیرې شي. د امریکا پخوانی د دفاع وزیر «پاتریک شاناهان» د پوځ له رهبر څخه وغوښتل، څو پر چین تمرکز وکړي او ویې ویل: «چین، بیا چین او بیا هم چین.» سرچینه: (الجزیره نټ، ۲۰۱۹، د جنوري ۳مه)

ز ـ له دې ټولو سره سره، امریکا له روسیې سره د اړیکو په جنجالي کولو سربېره، روسیې ته د چین پر وړاندې انگېزه ورکولو کې ناکامه وه. په ځانگړي ډول دا چې پر روسیه فشار له چین سره همهاله و، البته سوداگریزه جگړه، چې د دغې هېواد پر وړاندې یې پیل کړه. دغه کار له چین سره د روسیې

د نیږدې کېدو لامل شوی... په دې مانا چې پر روسیه فشار د دې لپاره و، چې د چین پر وړاندې له هغې سره ودرېږي، خو برعکس پایله یې درلوده او له شک پرته چې امریکا د روسیې او چین د نیږدې کېدو په خطر پوهیږي... په همدې دلیل د بایډن حکومت پرېکړه کړې، څو د فشار وسیله پرېږدي او پر ځای یې د ناستو په وسیله هیله ښښونکې وسیله وکاروي او وروسته تر ممکنې کچې د روسیې او چین نیږدې کېدل ستونزمن او لیرې کړي... او هغه کمسیون چې د دوو رهبرانو په ناسته کې جوړ شو، له روسیې سره یې په لوړه کچه خبرې اترې پیل کړې.

۴ـ له پوتین سره د بایډن لیدنه د دغې موخې د تر لاسه کولو لپاره وه، یعنې د امید ورکولو په خاطر، څو لانجه له منځه ولاړه شي او هغه فشارونه ترې لیرې کړي، چې امریکا غوښتل روسیه، د چین پر وړاندې د دوی له دریځ څخه ملاتړ وکړي او یا لږ تر لږه د روسیې او چین د لیرې کېدو لامل شي.

خو د دواړو هېوادونو تر منځ نورې اختلافي مسالې (لکه پورته مساله) ارزښت نه لري، د بېلګې په ډول د سوریې پر سر د دوی تر منځ بحث. ځکه امریکا غواړي د سوریې بحران په داسې ډول حل کړي، چې روسیه ورسره مخالفه نه وي. که د روسیې عزت خوندي پاتې شي، نو په دغه برخه کې مخالفت نه کوي. دغه راز د افغانستان په برخه کې، د دې توان نه لري، چې په افغانستان کې امریکایانو ته لانجه جوړه کړي، لکه څنګه چې امریکا په اتیایمه لسیزه کې روسیې ته جوړه کړې وه. نو د امریکا په ټاکنو کې د روسیې لاسوهنه، د نوې وسیلې په توګه د انټرنېټ کارول او د هغې اغېزې دي او یا هم شاید روسیه د امریکا د غبرګون په اړه نه وه پوهه، ګنې له دغې مداخلې لاس پر سر کېده.

خو هغه سایبري بریدونه چې امریکا روسیه پرې تورنوي، دومره سختې اغېزې یې نه درلودې چې د ترمیم وړ نه وي. د دغو بریدونو له غندلو او د له پوتین سره تر ناستو وروسته بایډن وویل، چې که امریکا یو ځل بیا د امریکا اطلاعاتو ته د نفوذ هڅه وکړي. امریکا د روسیې انټرنېټي بریدونو ته د نفوذ او د هغوی د الکترونیکي شبکې د تخریب زیات توان لري او د روسیې د تېلو لولې تخریب یې د بېلګې په ډول وړاندې کړه.

۵- د روسيې ولسمشر ژنيف په داسې حال کې ترک کړ، چې پوهېده امريکا په راتلونکو مياشتو کې د روسيې راتلونکو قدمونو ته په تمه ده او ګډ جوړ شوی کمسيون د دغو اقداماتو د څېړلو په لټه کې دی او د روسيې ولسمشر په ښه ډول پوهېږي، چې پر روسيه د امريکا فشار توان زيات دی او د دغو فشارونو له ډلې يې، ځينې امريکا ازمويلي دي، دغه راز پوهيږي، چې چين به يې ترک کړي او غرب ته به پام وروګرځوي. ځکه د روسيې په پرتله يې څو چنده له غرب سره د سوداګرۍ ګټه زياته ده. نو په زيات احتمال چې راتلونکو مياشتو کې به د روسيې او امريکا اړيکې ښې شي او د چين او روسيې اړيکې به پيکه شي. په کومه کچه چې د روسيې او امريکا اړيکې ښې کېږي، په هماغه کچه يې اړيکې له چين سره پيکه کېږي. که چېرې داسې وشي، نو له پوتين سره د بايډن ناسته به له چين سره د روسيې د نيږدې کېدو مخه ونيسي او روسيه به پر چين د فشار راوستلو لپاره د يوې وسيلې په توګه وکارول شي. که څه هم د کسينجر د ليدلوري پر بنسټ، د امريکا له تمو په کمه کچه وي.

که روسيې دغه کار تر سره نه کړ او د روسيې په داخل کې د پوتين په مشرۍ د امريکا پر وړاندې يې سرکشۍ دوام ورکړ، نو د دې تمه کېږي، چې د بايډن حکومت به د روسيې پر وړاندې فشارونه زيات کړي او دغه هېواد به د اور په کمربند سره وګواښي. په قفقاز کې؛ هغه ځای چې د آذريانو او ارمنيانو جګړه ده پکې او وروسته د اوکراين په موضوع کې، د دغه هېواد د خاورې توحيد کولو په پار د غرب ملاتړ اعلان کړي...

دغه طاغوتي هېوادونه چې په راس کې يې امريکا ده، د هغه څه په اړه فکر نه کوي، چې د خلکو مصلحت دی پکې، يوازې د خپلو ګټو په اړه فکر کوي، که د خلکو د وژلو په قيمت هم وي.

﴿**أُوْلَـئِكَ شَرٌّ مَّكَاناً وَأَضَلُّ عَن سَوَاء السَّبِيلِ**﴾ {فرقان:34}

***ژباړه:*** *هغوی تر ټولو بد ځای او منحرف ترینه لاره لري.*

**د حزب التحرير امير**

**۱۴۴۲هـ.ق، د ذولقعدې ۹مه**

**۲۰۲۱م، د جون ۲۰مه**

**ژباړن: حبیب الله حبیب**